هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. | شماره مسلسل (۳۳۳) | ماه ربیع الثانی ۱۴۴۸ هـ ق. مطابق ماه سنبله ۱۴۰۵ هـ ش


**مطالعه کسب تجربه و عبرت گرفتن از سرگذشت دیگران است**

### ارائه دستآوردهای مهم وزارت معارف در سال ۱۴۴۷هـ ق
## در برنامه حکومت در آیینه مطبوعات



محترم مولوی ذبیح الله مجاهد سخنگوی مرکزی امارت اسلامی افغانستان در برنامه «حکومت در آیینه مطبوعات»، مهمترین دستاوردها و فعالیت های یکساله وزارت معارف را با رسانه‌ها و مردم شریک کرد.

بر اساس معلومات ارائه شده، در سال یادشده در سراسر ملک برای ۲۳۸ باب مکتب و مدرسه دینی ساختمان جدید ساخته شده و ساختمان‌های ۹۷۰ مکتب و مدرسه دینی دیگر ترمیم و بازسازی شده است. همچنان، در مکاتب امارتی و خصوصی در مجموع ۱۱ میلیون و ۲۷۳ هزار و ۷۸۵ تن شاگرد ثبت شده اند که از این میان ۷ میلیون و ۶۲۰ هزار و ۶۴۰ تن عملاً مصروف فراگیری آموزش بوده‌اند. افزون بر آن، ۲ میلیون و ۴۴۴ هزار و ۷۵۲ تن طلاب العلم در مدارس دینی به فراگیری علوم دینی مصروف بوده‌اند.

در همین مدت، از طریق ۴ هزار و ۹۷۳ مرکز سوادآموزی در سراسر ملک برای ۹۳ هزار و ۵۰۹ تن برنامه‌های سوادآموزی ارائه شده و ۸۲ هزار و ۸۳۲ تن عودت کننده نیز در مراکز تعلیمی جذب شده اند.

بر اساس گزارش، در سال ۱۴۴۷هـ- ق ۲۸۳ هزار و ۶۶۵ قطعه شهادتنامه صادر و ۴۸ هزار و ۳۲۳ قطعه شهادتنامه به منظور مُهر و تأیید به وزارت امور خارجه ارسال شده است.

همچنان، برنامه‌های ارتقای ظرفیت و آموزشی برای معلمین، سرمعلمین، مدیران، آمران و اعضای شوراهای مکاتب برگزار شده است. در بخش اشتغال زایی نیز در مجموع ۱۰ هزار و ۶۰۲ تن در بست‌های مختلف استخدام شده اند که شامل ۵ هزار و ۴۸۱ معلم، ۲ هزار و ۱۰ مدرس مدارس دینی، ۲ هزار و ۱۷ کارمند اداری و یکهزار و ۹۴ تن در بستهای آموزش معلمان و علمی میباشند.

همچنین، به منظور تأمین شفافیت، تسریع روند امور و ارائه خدمات بهتر به مردم، ۴۲ سیستم مختلف ایجاد، فعال و تحت نظارت دوامدار قرار گرفته است.

## د پوهنې وزارت مالي او اداري معین له لوري په بدخشان کې د یوه ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه




د بدخشان ولایت بهارک ولسوالۍ اړوند پایان شهر لېسې نوې ودانۍ، چې څه موده وړاندې یې د دوو ملي سوداګرو له لوري د ۹ مېلیونه او ۶۰۰ زره افغانیو په مالي ملاتړ د جوړولو چارې پیل شوې وې، بشپړه او د پوهنې وزارت د مالي او اداري معین محترم الحاج مولوي صبغت‌الله وصیل، د یاد ولایت پوهنې ریاست مسئولینو، علماءکرامو، سوداګرو او سیمه‌ییزو اوسېدونکو په حضور کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د پوهنې وزارت محترم معین د یاد ښوونځي جوړولو په برخه کې د یادو سوداګرو له مرستې او ونډې اخیستنې مننه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې د ښوونځیو په جوړولو کې د وقف او ولسي مشارکت دود یو شرعي او ارزښتناک اصل دی او د علم او پوهې د پراختیا په موخه باید لا پیاوړی او عام شي.

د یادونې وړ ده، چې په نوې ودانۍ کې ۱۰ درسي ټولګي، یو باب آزموینښتون، ګدام، تشنابونه او د څښاک پاکې اوبه شاملې دي، چې د سلګونو زده‌کوونکو لپاره یې مناسب ښوونیز چاپېریال برابر کړی دی.

د یو بل خبر له مخې د بدخشان ولایت شهرِ بزرګ ولسوالۍ اړوند چوګاني کلي د امام بخاري رحمه‌الله دیني مدرسې نوې ودانۍ د سیمې د یو شمېر علم‌دوسته اوسېدونکو په هڅو او مالي مرسته د ۹۰۰ زره افغانیو په لګښت سره جوړه او ګټې اخیستنې ته ...

۲مخ

## د دعوت او ارشاد ریاست اوونیز فعالیتونه او لاسته راوړنې

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د خپل کاري پلان له مخې، د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو د پیاوړتیا، د نظم او انضباط د ټینګښت او د ښوونیز بهیر لاښه والي په موخه، تېره اوونۍ یو لړ دیني، روزنیز او څارنیز فعالیتونه ترسره کړل.

د یاد ریاست څارنیزو ټیمونو د کابل ښار په شپاړس ګونو حوزو او د ملک په ټولو ولایتونو کې د ښوونیزو او اداري چارو څارنه او ارزونه وکړه. په دغو ارزونو کې د ښوونیز نصاب د تطبیق، اداري او ښوونیز نظم، تدریسي بهیر، ښوونیز چاپېریال د ښوونکو او زده‌کوونکو اخلاقي چلند او د اسلامي ارزښتونو د مراعاتولو وضعیت وکتل شو.

همدارنګه، د ښوونیزو او اداري کارکوونکو سیرت او صورت، دیني معلومات او د کاري مسئولیتونو د ترسره کولو څرنګوالی وارزول شو، چې د ارزونو له مخې په دې برخو کې د پام وړ مثبت بدلونونه رامنځته شوي دي.

د څارنو پر مهال اړوندو مسئولینو ته د چارو لا ښه والي په موخه لازمې لارښوونې وشوې او ټینګار وشو چې د علمي زده‌کړو ترڅنګ د زده‌کوونکو دیني، اخلاقي او ټولنیزې روزنې ته هم ځانګړې پاملرنه وشي.

د دعوت او ارشاد ریاست ...

۲مخ

## برگزاری نشست مشورتی رهبری وزارت معارف با مهتممان مدارس زون شمال شرق در ولایت بلخ

محترم الحاج مولوی کرامت‌الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی و محترم الحاج مولوی صبغت‌الله وصیل معین مالی و اداری و شماری از روؤسای مرکزی وزارت معارف در سفر به ولایت بلخ طی نشستی با مسئولان معارف ولایات زون شمال شرق و علمای کرام دیدار و در رابطه به موضوعات مختلف بحث و تبادل نظر نمودند.

در این سفر محترم مولوی عبدالقیوم آغا پاچا صاحب مشاور ارشد مقام وزارت معارف، محترم مفتی محمد یوسف ثاقب، رئیس عمومی مدارس و دارالحفاظ‌ها، محترم مفتی عبدالولی سداد، رئیس ارزیابی استعدادهای وزارت معارف نیز آنان را همراهی می کرد.

معین محترم تعلیمات اسلامی وزارت معارف هدف اساسی این نشست را مشورت و تبادل نظر به منظور بهبود هرچه ...

ص۲

## آغاز سال جدید تعلیمی در مناطق و ولایات گرمسیر



سال جدید تعلیمی طبق لایحه وزارت معارف به تاریخ ۱۵ سنبله با برگزاری محافل باشکوه با حضور روؤسا و مسئولان معارف ولایات گرم سیر، مسئولان ادارات محلی، استادان، شخصیت های فرهنگی، طلاب مدارس و شاگردان مکاتب رسما آغاز شد.

مسئولان معارف ولایات گرم سیر در سخنان شان ضمن تبریک گفتن سال جدید تعلیمی برای معلمین، شاگردان و مردم معارف دوست ملک از شاگردان نهاد های تعلیمی خواستند تا از فرصت های موجود تعلیمی استفاده اعظمی نموده و از امکانات به دست آمده در راستای سهولت های تعلیمی و فراهم شدن زمینه تعلیم از سوی وزارت معارف، به دروس و غنامندی علمی خویش تلاش نمایند.

## په کونړ ولایت کې ۵۷ تنه مجاهدینو څخه د سویې تثبیت آزموینه واخیستل شوه




دکونړ ولایت پوهنې ریاست له لوري له ۵۷ تنو مجاهدینو څخه چې د جهاد په لیکو کې د بوختیاوو له امله یې زده‌کړې نیمګړې پاتې شوې وې په ښوونځیو کې د جذب او زده کړو د دوام په موخه د سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه. د کونړ ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا، ټاکل شوې چې ددغو کسانو د پوهې کچې له ارزونې وروسته یادکسان د کونړ ولایت په ښوونځیو کې له اووم تر یوولسم ټولګي پورې جذب شي.

در این شماره


د زده‌کوونکي شخصیت جوړونه د ښوونې تر څنګ مهم مسئولیت دی — ۲ مخ
رښتینې ښکلا د انسان له د ننه پیلېږي — ۳ مخ
نوری که کم نمی‌شود — ص ۳

سرلیکنه

## د زده کوونکي شخصیت جوړونه، د ښوونې تر څنګ مهم مسئولیت دی

بسم‌الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

ښوونه او روزنه یوازې د کتابونو د پاڼو لوستل، د درسونو زده کول او د آزموینو له لارې د طلابو او زده‌کوونکو د علمي کچې معلومول نه دي بلکې د ښوونې او روزنې له اساسي موخو څخه یوه مهمه موخه د داسې نسل روزنه ده چې له علم، پوهې او مهارتونو سربېره په ښو اخلاقو، اسلامي ارزښتونو او مسئولیت‌منلو هم سمبال وي. ځکه طلاب العلم او زده‌کوونکی د نن ورځې د مدرسې او ښوونځي زده‌کوونکی او د سبا ورځې د افغانستان عالمان، ښوونکي، ډاکټران انجینران او د ټولنې د بېلابېلو برخو مسئول وګړي دی. که یو طالب العلم او زده‌کوونکی یوازې علمي معلومات ترلاسه کړي، خو د اخلاقو، رښتینولۍ، احترام او ټولنې په وړاندې د مسئولیت احساس ونه لري، نو د هغه زده‌کړه به هغه ته فایده نه وي رسولې. له همدې امله د طالب العلم او زده‌کوونکي شخصیت جوړونه باید د علمي زده‌کړو تر څنګ د ښوونې او روزنې له مهمو موخو څخه وبلل شي. مدرسه او ښوونځی د طلاب العلم او زده‌کوونکو د شخصیت جوړولو له مهمو مرکزونو څخه شمېرل کېږي. ماشوم او ځوان د خپل ژوند په حساسو پړاوونو کې ډېر څه له خپل ښوونیز چاپېریال مدرسینو، ښوونکو او ټولګیوالو زده کوي. د مدرس او ښوونکي هره خبره، ښه چلند، غوره اخلاق، حوصله، د طلابو او زده‌کوونکو پر وړاندې درناوی هغه لاملونه دي چې کولای شي د طلابو او زده کوونکو پر شخصیت ژور اغېز وکړي. له همدې امله مدرسین او ښوونکي د زده کوونکو د شخصیتونو روزونکي او د راتلونکي نسل لارښوونکي هم دي. یو بریالی مدرس او ښوونکی هغه دی چې د درس تر څنګ طلابو او زده‌کوونکو ته د ژوند ارزښتونه هم ور وپېژني هغوی ته د رښتینولۍ، امانتدارۍ، نظم، پاکۍ، یو بل ته د درناوي او د ټولنې په وړاندې مسئولیت لرل ور زده کړي. کله چې یو طالب العلم او زده‌کوونکی په سالم او مناسب ښوونیز چاپېریال کې وروزل شي، نو هغه به نه یوازې په علمي ډګر کې پرمختګ وکړي بلکې د یوه بااخلاقه او ګټور انسان په توګه به ټولنې ته وړاندې شي. یو ښه طالب العلم او زده‌کوونکی هغه خوک دی چې له علم سره ادب، له پوهې سره تواضع، له بریا سره شکر او له زده‌کړې سره عمل مل کړي. د وخت پابندي، د خپلو ښوونکو او ټولګیوالو درناوی، د مدرسې او ښوونځي د چاپېریال ساتنه، د کتابونو ارزښت، له نورو خلکو سره مرسته، رښتینولي او د خپلو دندو په وړاندې مسئولیت منل هغه مهم ارزښتونه دي چې د طالب العلم او زده‌کوونکي شخصیت پیاوړی او بشپړوي. دا هم باید له پامه ونه غورځوو چې کورنۍ د ماشومانو لومړنی ښوونځی دی او ماشومان ډېری لومړني اخلاق او عادتونه له خپل کور څخه زده کوي. کله چې کورنۍ د علم ترڅنګ د آدب، صداقت، نظم او ښه چلند ارزښتونو ته پاملرنه وکړي او مدرسه او ښوونځی یې په سالم او روزنیز ډول پیاوړي کړي، نو د یوه متوازن، بااخلاقه او مسئول شخصیت د جوړېدو زمینه لا پیاوړې کېږي. له همدې امله د کورنۍ او ښوونکي ګډه همکاري د سالم نسل په روزنه کې ځانګړی ارزښت لري. دوی باید تل کوښښ وکړي چې طلاب العلم او زده‌کوونکي یوازې د آزموینې او لوړو نمرو لپاره ونه روزي، بلکې په هغوی کې د نوښت، مسئولیت منلو، ګډې همکارۍ او په هغوی کې په ځان باور هم پیاوړې کړي په همدې توګه د ښوونځي او مدرسې سالم چاپېریال د د طلابو او زده‌کوونکو د شخصیت په جوړونه کې ځانګړی رول لري. پاک او منظم تعلیمي چاپېریال، درناوی، د نظم مراعات، د زده‌کوونکو هڅونه او له هغوی سره مناسب او ښه چلند هغه عوامل دي چې د طلابو او زده‌کوونکو پر رواني، اخلاقي او علمي ودې مثبت اغېز کوي. طلاب او زده‌کوونکي هغه مهال په ځان باور پیدا کوي چې په تعلیمي چاپېریال کې ځان محترم، مسئول او د ټولنې یو ګټور غړی احساس کړي. د افغانستان راتلونکی هغه مهال روښانه او هیله‌بښونکی کېږي چې په علم، پوهې او اسلامي اخلاقو سمبال نسل په کې وروزل شي. د نن ورځې طلاب او زده‌کوونکي د سبا ورځې د ټولنې جوړوونکی دی؛ نو که نن د هغه د علم تر څنګ شخصیت اخلاق او په ځان باور هم پیاوړې کړو، سبا ورځ به مو د یوې سالمې او پرمختللې ټولنې د جوړېدو لپاره قوي بنسټ ایښی وي.

پوهنې وزارت د ملک د راتلونکي نسل د علمي او روزنیزې ودې مسئولیت په پام کې نیولو سره تل هڅه کړې او کوي یې چې د ګرانو طلابو او زده‌کوونکو لپاره د زده‌کړې مناسب، سالم او معیاري فرصتونه لا پراخ کړي. د ښوونیزو خدمتونو پیاوړتیا، د تعلیمي چاپېریال ښه والی، د ښوونکو د ظرفیتونو لوړول او د زده‌کوونکو د علمي او اخلاقي روزنې لپاره د مناسبو زمینو برابرول د دې بهیر له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. پوهنې وزارت هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د شته امکاناتو په چوکاټ کې به د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د ماشومانو او ځوانانو لپاره د ښه، معیاري او اغېزمن تعلیم او سالمې روزنې د زمینې د برابرولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي، څو زموږ راتلونکی نسل په علم پوهې او ښو اخلاقو سمبال او د خپل ملک او ټولنې د خدمت جوګه وروزل شي. ان شاءالله

## په غور کې د یو باب ښوونځي د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د غور ولایت په لعل او سرجنګل ولسوالۍ کې د سبزوار منځنې ښوونځي د نوې ودانۍ جوړېدو بنسټ ډبره دیوې غونډې په ترځ کې د پوهنې مسئولینو او د سیمې اوسېدونکو په حضور کې کېښودل شوه.
د غور ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وايي د یاد ښوونځي نوې ودانۍ به په دوه جریبو ځمکه کې د لعل او سرجنګل ولسوالۍ د علم دوستو اوسېدونکو په مالي مرسته د ۵۰۰ زره افغانیو په لګښت جوړه شي چې ۱۰ درسي ټولګي او یوه اداري خونه به ولري. دوی زیاتوي چې د یادې ودانۍ په جوړېدو سره به د سیمې په سلګونو تنو زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال را منځ ته شي. د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو د سیمې اوسېدونکو له مرستو مننه وکړه او له نورو هېوادوالو یې هم وغوښتل چې د ښوونیز نظام څخه خپل مادي او معنوي ملاتړ ته دوام ورکړي.

❁❁❁

## برگزاری مسابقه علمی میان طلاب مدارس و دارالعلوم‌های مرکز ولایت بامیان

مسابقه علمی میان طلاب مدارس و دارالعلوم‌های مرکز ولایت بامیان، با حضور نمایندگان معینیت تعلیمات اسلامی و مسئولان ریاست معارف در دارالعلوم اتفاق ولایت بامیان برگزار شد.
این مسابقه به هدف تقویت روحیه علمی تشویق طلاب به فراگیری علوم و ایجاد زمینه رقابت سالم میان مدارس و دارالعلوم‌های ولایت بامیان در بخش های صرف، نحو و عقاید برگزار گردید. در این برنامه ۲۰۰ تن از طلاب مدارس و دارالعلوم‌های مرکز بامیان اشتراک نموده بودند که در بخش‌های علمی به رقابت پرداخته و توانایی‌های علمی شان را به نمایش گذاشتند.
نمایندگان معینیت تعلیمات اسلامی و مسئولان ریاست معارف ولایت بامیان ضمن حضور در این برنامه، بر اهمیت آموزش علوم دینی، رشد ظرفیت‌های علمی طلاب و حمایت از برنامه‌های علمی و آموزشی تأکید کردند.
در پایان از سوی ریاست معارف بر تداوم چنین برنامه‌هایی برای تقویت سطح علمی طلاب و ایجاد انگیزه بیشتر در راستای تحصیل علوم دینی تأکید شد.

❁❁❁

## په پکتیا کې د یو باب لیسې ودانۍ د جوړېدو بنسټ ډبره کېښودل شوه

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ اړوند د کوتي‌خېلو لیسې لپاره د ۱۱.۴ میلیونه افغانیو په لګښت د نوې دوه پوړیزې ودانۍ بنسټ ډبره کېښودل شوه.
د پکتیا ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وايي په یاده ودانۍ کې د ۱۰ درسي ټولګیو جوړولو سربېره د ښوونیز بهیر د ښه والي په موخه نور اړین ملحقات هم په پام کې نیول شوي دي. د یادونې وړ ده چې د ۱۴۰۵ لمریز کال په بهیر کې په یاد ولایت کې د پوهنې وزارت له بودجې څخه د شاوخوا ۳۶ میلیونه افغانیو په ارزښت د ودانیزو او ترمیماتي پروژو چارې پلې کېږي چې په بشپړېدو سره به یې په زرګونو تنو زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال برابر شي.

❁❁❁

## په کاپیسا کې د ښوونځیو د زده‌کوونکو د علمي نوښتونو نندارتون جوړ شو

د کاپیسا ولایت نجراب ولسوالۍ اړوندو ښوونځیو د تخنیکي او علمي نوښتونو د نندارتون مراسم، د یاد ولایت د پوهنې مسئولینو او د یو شمېر ښوونځیو د زده‌کوونکو ترمنځ ترسره شول. په دغه نندارتون کې د زده‌کوونکو له لوري جوړ شوي توکي، نوښتونه او پروژې نندارې ته وړاندې شوې، چې د ساینس مرکز عمومي مدیریت پلاوي له لوري تر ارزونې وروسته نمرې ورکړل شوې.

## برگزاری برنامه ارتقای ظرفیت برای کارکنان اداری معارف در ولایت تخار

برای ۴۸۰ تن کارکنان ادارای مدارس دینی، مکاتب و هسته مرکزی ریاست معارف ولایت تخار برنامه آموزشی ارتقای ظرفیت‌های مسلکی برگزار شد.
این برنامه که از سوی ریاست عمومی امور کارکنان وزارت معارف راه اندازی شده بود، برای شاملان در بخش های اداره، پلان گذاری، گزارش نویسی، طرزالعمل ارزیابی و مراسلات آموزش داده شد.

❁❁❁

**د پوهنې وزارت مالي او اداري معین له...**

وسپارل شوه. د بدخشان ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وايي چې یاده ودانۍ شپږ درسي ټولګي او یوه اداري خونه لري، چې په بشپړېدو سره یې د سیمې لسګونو تنو طلاب العلم لپاره د زده کړې مناسب چاپېریال برابر شوی دی.

**د دعوت او ارشاد ریاست اوونیز فعالیتونه او...**

د دغو فعالیتونو موخه په ښوونیز او اداري نظام کې د اسلامي او اخلاقي ارزښتونو پیاوړتیا، د نظم او مسئولیت‌پالنې پراختیا او د سالم کاري او ښوونیز چاپېریال رامنځته کول دي.

**برگزاری نشست مشورتی رهبری ...**

بیشتر وضعیت آموزشی مدارس دینی عنوان کرد.
در این نشست همچنین معین محترم مالی و اداری وزارت معارف درباره تأمین و تقویت نظم در مدارس دینی صحبت کرد و با استناد به احادیث نبوی صلی الله علیه وسلم، بر اهمیت علم و رعایت نظم تأکید کرد. وی تصویب ۱۰۰ هزار بست، ایجاد مدارس هزار نفری در هر ولایت، ایجاد مدارس ۵۰ نفری در هر ولسوالی، تأسیس ۲۲ هزار و ۸۷۵ باب مدرسه دینی در سراسر ملک و چاپ نصاب آموزشی واحد برای مکاتب و مدارس را از دستاوردهای مهم وزارت معارف یاد کرد.
در جریان این نشست در مورد ارتقای کیفیت مدارس، تأمین اعاشه و اباطهٔ طلاب، توحید نصاب تعلیمی، مدیریت و نظم اداری، وظایف و مسئولیت‌های مهتممان مدارس، برنامه ریزی، مسئولیت‌های تدریسی و سایر مکلفیت‌های استادان بحث و تبادل نظر صورت گرفت. هم چنان بر ضرورت فراگیری علوم ساینسی در کنار علوم دینی تأکید صورت گرفت و مشوره‌های لازم در این زمینه با مسئولان مدارس شریک ساخته شد. در پایان نشست، شماری از روئسا و علمای کرام نیز دیدگاه‌های خویش را درباره موضوعات مطرح شده شریک ساختند.

**ترمیم و ساخت دفاتر اداری به ...**

تضمین کیفیت وزارت معارف، از حضور وی ابراز خرسندی کرده و در مورد تکمیل این پروژه، اهداف و دستاوردهای آن معلومات ارائه کرد.
سپس محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت وزارت معارف، در سخنان خود اقدام ریاست معارف شهر کابل را در زمینه بازسازی و ساخت تعمیر های یادشده و ایجاد فضاهای کاری معیاری در راستای بهبود امور اداری و فراهم‌سازی محیط کاری مناسب، مهم و ارزشمند دانست.
وی افزود: بهبود محیط اداری بر روحیه کاری کارمندان کیفیت امور و نحوه ارائه خدمات به مراجعین تأثیر مستقیم و مثبت دارد، از همین رو، لازم است امکانات موجود به‌گونه درست مدیریت شده و مطابق نیازهای اداره، از آن‌ها بیشترین استفاده صورت گیرد.

**برگزاری مسابقه علمی میان طلاب مدارس و...**

فراگیری علوم دینی، از انگیزه و روحیه علمی بالایی برخوردار باشند و برای خدمت به جامعه آماده شوند. رئیس معارف پنجشیر همچنان بر ارتقای کیفیت تعلیمات اسلامی، رشد استعدادهای علمی طلاب و حمایت از برنامه‌های علمی و آموزشی تأکید نموده و از مسئولان مدارس و دارالعلوم‌ها خواست تا زمینه رشد علمی و تربیتی طلاب را بیشتر فراهم سازند.
در ادامه، محترم مولوی شمس الدین شجاع، آمر علمی و تدریسی ریاست دارالعلوم‌های مقام محترم معینیت تعلیمات اسلامی، نیز پیرامون اهداف و اهمیت برگزاری این مسابقه صحبت نموده و بر تشویق طلاب به مطالعه، رقابت سالم و ارتقای سویه علمی آنان تأکید کرد.
گفتنیست که این مسابقه با هدف ارتقای سویه علمی طلاب، شناسایی استعدادهای برتر، ایجاد روحیه رقابت سالم و تشویق شاگردان به فراگیری و مطالعه بیشتر میان ۴ صد تن از طلاب مدارس و دارالعلوم ها از صنوف هفتم الی دوازدهم برگزار گردیده است که نتایج آن در روز های نزدیک از سوی ریاست معارف ولایت پنجشیر اعلام خواهد شد.

## لنډخبرونه

**بدخشان**

د بدخشان ولايت د تشکان ولسوالۍ اړوند خالد بن وليد رضي‌الله‌عنه ديني مدرسې لپاره دوو تنو علم‌دوسته هېوادوالو هر يو محترم جمعه‌خان او عبدالملک له لوري يو جريب ځمکه وقف شوه.
ياد ولايت پوهنې رياست د دغه نېک او ارزښتمن اقدام ستاينه کړې او دا يې د ديني زده‌کړو د ملاتړ او د ښوونې او روزنې لپاره د غوره زمينې برابرولو په برخه کې ارزښتناک ګام بللی دی.

**کابل**

به منظور اصلاح و تکميل اولويت‌های نظام معارف برای سال ۱۴۰۶ هـ ش، نشست کميته تخنيکی پلان استراتيژيک تحت رهبری محترم مفتی حبيب الله قتاده نوری رئيس پلان و پاليسی وزارت معارف برگزار شد. در جلسه، اولويت‌های نظام تعليمی ملک برای سال ۱۴۰۶ هـ ش که در روشنايي پلان استراتيژيک، نتايج تحليل استراتيژيک و نظريات ادارات مرکزی توسط آمريت تحليل استراتيژيک رياست پلان و پاليسی تهيه شده بود، ارائه و مورد بحث و نظرخواهی قرار گرفت.

**ميدان وردګ**

د بهسودو ولسوالۍ اړوند شهدای هلمند ښوونځي لپاره د يوې کمپيوټرخونې، لمريزې برېښنا سيستم او تفريحي تاسيساتو جوړولو چارې، چې څه موده وړاندې د ۳۰۰ زره افغانيو په لګښت پيل شوې وې، بشپړې شوې.
يادې آسانتياوې د ميدان وردګ ولايت دپوهنې رئيس محترم الحاج مولوي عبدالحق حقاني له لوري تر پرانيستلو وروسته ګټې اخيستنې ته وسپارل شول.

**نورستان**

د نورستان ولايت د يو شمېر ښوونځيو اداري مديرانو او سرښوونکو ته د مسلکي وړتيا لوړولو په موخه شپږ ورځنۍ روزنيز ورکشاپ جوړ شو. د ياد ولايت پوهنې مسئولينو په اداري چارو کې د پرمختګ او د چارو ترسره کولو د کيفيت لوړولو لپاره د مسلکي زده‌کړو پر ارزښت او اغېز ټينګار وکړ.

**غزنی**

برای ليسه البيرونی پيدگه در ولسوالی جاغوری ولايت غزنی، با حمايت مالی باشندگان محل اتاق اداری، کتابخانه، صنف کمپيوتر و فعال سازی سيستم برق آفتابی که حدود ۸۰۰ هزار افغانی مصرف برداشته است افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

**سمنګان**

د سمنګان ولايت مرکز ايبک اړوند ګل‌قشلاق لېسې د نوې ودانۍ جوړولو لپاره د علم دوسته شخصيت محترم حاجي جمشيد پهلوان له لوري ۱۵۰۰ متره مربع ځمکه وقف شوه. د ياد ولايت پوهنې رياست د دغه نېک او ارزښتمن اقدام ستاينه کړې او دا يې د پوهنيزنظام د ملاتړ او د زده‌کوونکو لپاره د غوره ښوونيز چاپېريال برابرولو په برخه کې اغېزمن ګام بللی دی.

**جوزجان**

برنامه آموزشی شش‌روزه ارتقای ظرفيت برای ۹۰ تن از معلمان و اعضای شوراهای مکاتب در ولسوالی‌های فيض‌آباد و منگجيک ولايت جوزجان با همکاری مؤسسات همکار با معارف برگزار گرديد.

# رښتينې ښکلا د انسان له د ننه پيلېږي



انسان عموماً د ښکلا په اړه لومړی د مخ لباس او ظاهري بڼې فکر کوي خو رښتينې ښکلا تر ظاهري څېرې ډېره پراخه معنا لري. ښکلې څېره انسان ته لومړنی اغېز ورکوي خو ښه اخلاق، پاک زړه، رښتينولي، متوازن فکر او سالم چلند هغه ځانګړنې دي چې د انسان ريښتينی ارزښت څرګندوي.
د انسان رواني حالت د هغه پر ورځني ژوند او چلند اغېز لري. دوامداره کينه، حسد، غوسه، دروغ، غيبت او د نورو په اړه منفي فکر کول د انسان ذهني سکون کموي او ټولنيزې اړيکې زيانمنوي. برعکس، قناعت ښنه، مثبت فکر کول، رښتينولي او د نورو درناوی د سالم شخصيت په جوړولو کې مهم رول لري. څوک چې خپل زړه له کينې او خپله ژبه له بدو خبرو ساتي، نه يوازې د نورو لپاره د احترام وړ وي، بلکې خپل ژوند هم له ډېرې رواني ګډوډۍ څخه ژغوري.
لمونځ او عبادت هم د مؤمن د معنوي ژوند مهم بنسټونه دي. د لمانځه پابندي انسان ته د خپل رب د ياد، نظم او معنوي سکون احساس ورکوي او د دې لامل کېږي چې خپل چلند او اعمال په دوامداره توګه وارزوي. له همدې امله د انسان د ښکلا يوه مهمه برخه د هغه له باطني اصلاح او ښه اخلاقو سره تړاو لري. ځواني د انسان د شخصيت د جوړېدو مهم پړاو دی. په دې عمر کې يوازې د ظاهري بڼې پر ښکلا تمرکز کول کافي نه دي؛ بلکې بايد د علم، اخلاقو، عبادت، روغتيا، مثبت فکر او سالمو ټولنيزو اړيکو د پياوړتيا لپاره هم هڅه وشي. هغه ځوان چې خپل ظاهر پاک، خپل فکر سالم، خپله ژبه رښتينې او خپل زړه له کينې پاک ساتي، په حقيقت کې د ښکلا بشپړ مفهوم ته نږدې کېږي.
رښتينې ښکلا هغه نه ده چې يوازې په هنداره کې وليدل شي؛ رښتينې ښکلا هغه ده چې خلک يې ستا په خبرو، اخلاقو، چلند او شخصيت کې احساس کړي. د څېرې ښکلا د وخت په تېرېدو بدلېږي، خو د ښه اخلاقو او پاک شخصيت ښکلا د انسان له ارزښت سره اوږدمهاله پاتې کېږي. نو د ښکلي مخ ترڅنګ د ښکلي زړه، سالم فکر او نېک شخصيت د جوړولو هڅه هم وکړئ؛ ځکه رښتينې ښکلا له دننه پيلېږي.

ترتيب کوونکی: مفتاح الدين حبيب زی

# نوری که کم نمی‌شود

ترتيب کننده: ضياء الدين کريمی



روزی شاگردی از استادش پرسيد: چگونه می‌توان فهميد که انسان بزرگی شده‌ايم؟ استاد شمعی روشن کرد و گفت: اين شمع را ببين. هرچه بيشتر می‌سوزد، نور بيشتری به اطراف خود می‌بخشد؛ و اما اگر با شعلهٔ آن، شمع ديگری را روشن کنيم، چيزی از نور آن چراغ کم نمی‌شود. برعکس، تاريکی بيشتری از ميان می‌رود و روشنايي بيشتر می‌شود. سپس استاد ادامه داد: انسان‌های بزرگ نيز چنين‌اند. آنان از پيشرفت و موفقيت ديگران نمی‌ترسند؛ زيرا می‌دانند موفقيت ديگران چيزی از ارزش و جايگاه آنان کم نمی‌کند. انسان بزرگ کسی نيست که تنها خودش به قله و اوج کاميابی برسد؛ بلکه کسی است که وقتی به قله رسيد و کامياب شد دست ديگران را نيز بگيرد و به آنان برای رسيدن به جايگاه بهتر و بالاتر کمک کند.
شاگرد با دقت به شمع نگاه کرد و گفت: پس بزرگی انسان به اين نيست که چقدر از ديگران بالاتر ايستاده باشد؟
استاد گفت: نه! بزرگی واقعی انسان در اين است که وقتی توانمند شد، ديگران را ناتوان‌تر از خود نبيند؛ وقتی موفق شد، راه موفقيت را از آنان پنهان نکند؛ و وقتی چراغی در دست داشت، آن را فقط برای روشن کردن راه خودش به کار نبرد.
گاهی يک سخن خوب، يک تجربهٔ نيک و ارزشمند، يک راهنمايي صادقانه يا حتی يک تشويق ساده می‌تواند مسير زندگی انسانهای ديگر را بسوی خير و نيکويی تغيير دهد.
پس اگر روزی به جايگاهی بلندی رسيدی که توان کمک به ديگران را داشتی، دريغ نکن؛ زيرا نوری که به ديگری می‌بخشی، از روشنايي زندگی خودت کم نمی‌کند.
پند اين حکايت:
بزرگی انسان در بالا رفتنِ و بزرگ تنهايي نيست؛ در آن است که هنگام اوج، دست ديگران را نيز بگيرد و راه آنان را روشن کند. انسان بزرگ کسی است که موفقيت خود را چراغی برای ديگران می‌سازد، نه ديواری برای جدا کردن خود از ديگران بکوشيم ، برای ديگران مايهٔ خير و نفع رسانی باشيم؛ زيرا ارزش انسان به اندازهٔ نفعی است که به بندگان خدا می‌رساند.

# پر وعده وفا د مؤمن د شخصيت ښکلا ده

مطيع الله مجــاهد

پر وعده وفا کول د اسلام له سترو اخلاقي ارزښتونو څخه دی. اسلام مسلمانان دې ته رابولي چې پر خپلو ژمنو ټينګ ودرېږي، ځکه وعده يو امانت او مسئوليت دی. هغه څوک چې پر خپله خبره ولاړ وي، د الله تعالی په نزد محبوب او د خلکو په منځ کې د باور وړ انسان وي، خو د وعدې ماتول بيا د منافقانو له نښو څخه شمېرل شوي دي. الله تعالی دې موږ له هغو خلکو څخه نه کوي چې پر وعده وفا نه کوي.
پر وعده باندې وفا خورا مهم عمل دی، د دې اهم عمل په هکله الله تعالی او د الله تعالی رسول ﷺ زيات ټينګار کړی دی او الله تعالی په سورة الإسرا ۳۴ ايت کې فرمايي: ژباړه: پر خپلو ژمنو وفا وکړئ، ځکه د ژمنې په اړه به پوښتنه کېږي.
همدارنګه الله تعالی بل ځای په سورة المائدة ۱ ايت کې فرمايي: ژباړه: ای مؤمنانو! پر خپلو تړونونو او ژمنو وفا وکړئ.
همداسې رسول الله ﷺ فرمايلي دي ژباړه: د منافق درې نښې دي: کله چې خبرې کوي، دروغ وايي؛ کله چې وعده وکړي، خلاف ورزي کوي؛ او کله چې امانت ورکړل شي، خيانت کوي.{صحيح البخاري، حديث۳۳}
رسول الله ﷺ په خپل ټول ژوند کې پر وعدې د وفا له ټولو ستر عملي مثال و. له دوستانو او دښمنانو سره يې هم خپلې ژمنې پوره کولې او هېڅکله يې د عهد خلاف عمل نه کاوه.
نو پر وعده وفا کول د انسان عزت لوړوي، د خلکو باور پياوړی کوي، د ټولنې اړيکې ټينګوي او د الله تعالی د رضا سبب ګرځي. برعکس، د وعدې ماتول بې باوري، بدګماني او د اړيکو د خرابېدو لامل ګرځي. راځئ چې د قرآنکريم او د رسول الله ﷺ د سپېڅلو لارښوونو په رڼا کې پر خپلو ژمنو وفادار و اوسو، ځکه رښتينی مؤمن هغه دی چې خبرې او عمل يې يو وي او هره وعده په صداقت او امانت سره ترسره کړي.

# Marif
Weekly



کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»، مولوي عزیز احمد «ریان»، مولوي حبیب الله «مؤذن»، احمد شعیب «حقیقي»، عبدالصبور «غفراني»، محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»

انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»



شمېر : ۳۰۰۰

پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت



**د پوهنې کاروان مینه والو!**

تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او ټلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.

Marifnewspaper1919@gmail.com

د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲



Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 333 /2026


# ترمیم و ساخت دفاتر اداری به هزینه بیش از ۱.۳ میلیون افغانی در ریاست معارف شهر کابل



تعمیر ۸ اتاقه در ریاست معارف شهر کابل به هزینه مجموعی ۷۸۲ هزار و ۴۷۰ افغانی، همچنان ۳ باب اتاق اداری دیگر به ارزش ۵۲۹ هزار و ۷۵۹ افغانی از بودجه وزارت معارف ترمیم و ساخته شده و طی محفلی با حضور محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت وزارت معارف، و مسئولان معارف شهر کابل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.
محترم مولوی حسیب‌الله صاحب زاده رئیس معارف شهر کابل در محفل که به همین منظور دایر شده بود ضمن خوش‌آمدگویی به محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین ...

ص۲

## د پوهنې وزارت ستر سلاکار د کندهار ولایت له یو شمېر ښوونځیو څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت ستر سلاکار محترم الحاج مولوي غیاث‌الدین آغا، د ښوونیزو چارو لا ښه همغږۍ او پرمختګ په موخه کندهار ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې ددې ولایت د یو شمېر ښوونځیو له آمرینو او کتابدارانو سره کاري او لارښوونیزه غونډه ترسره کړه. د کندهار ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي فخرالدین نقشبندي، په دغه ولایت کې د ښوونیز بهیر، د ښوونځیو د چارو د تنظیم او د یاد ریاست د فعالیتونو په اړه پلاوي ته معلومات وړاندې کړل. وروسته پلاوي د ښوونځیو له مسئولینو سره د هغوی د مسئولیتونو، ښوونیز نظم او انضباط، د کتابونو د ساتنې او کارونې، د زده‌کوونکو ترمنځ د مطالعې دود د پیاوړتیا او د ښوونیز چاپېریال لا ښه والي په اړه هر اړخیزې خبرې ترسره او مسئولینو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.

## برگزاری مسابقه علمی میان طلاب مدارس و دارالعلوم‌ها در ولایت پنجشیر



به منظور ارتقای سطح علمی و تشویق طلاب به فراگیری هرچه بیشتر علوم دینی، مسابقه علمی میان طلاب مدارس و دارالعلوم‌های ولایت پنجشیر با حضور هیأت اعزامی معینیت تعلیمات اسلامی مسئولین ریاست معارف پنجشیر، آمرین تعلیمات اسلامی،تعلیم و تربیه و مالی و اداری در مسجد جامع مرکزی ولایت پنجشیر برگزار گردید.
محترم الحاج مولوی محمود طالب ثاقب رئیس معارف ولایت پنجشیر در محفل که به همین منظور راه اندازی شده بود پیرامون اهمیت علم و دانش صحبت نموده گفت: برگزاری چنین مسابقات علمی، زمینه رقابت سالم میان طلاب را فراهم ساخته و آنان را به مطالعه، تلاش و فراگیری بیشتر علوم دینی تشویق می‌کند. وی همچنین افزود: هدف ما این است که طلاب در کنار...

ص۲

## د ساینس مرکز ریاست څارنیز پلاوي د پغمان او استالف ولسوالیو له یو شمېر ښوونځیو څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د ساینس مرکز د رئیس محترم عبدالوکیل الهام په مشرۍ څارنیز پلاوي د کابل ولایت پغمان ولسوالۍ پوهنې آمریت اړوند له کشکک او خواجه مسافر امارتي ښوونځیو او مکارم خصوصي ښوونځي څخه لیدنه وکړه او د ساینس او ریاضیاتو د عملي تدریس، آزموینځتونونو، کمپیوټر خونو او کتابتونونو وضعیت یې له نږدې وارزاوه ښوونځیو اړتیاوې وارزول شوې او په ځینو ښوونځیو کې د عملي تدریس د کچې د محدودیت او له شته امکاناتو څخه د بشپړې ګټې اخیستنې په اړه اړوندو مسوولینو او ښوونکو ته لازمې لارښوونې وشوې.
د یادونې وړ ده چې د پوهنې وزارت د ساینس مرکز ریاست، د کابل ښار او ولایت د ۷۰ بابه ښوونځیو له آزموینځتونونو او



همدارنګه یاد پلاوي د کابل ولایت استالف ولسوالۍ اړوند د استالف، شهید مولوي یعقوب او خواجه حسن ښوونځیو له ساینسي آزموینځتونونو، کمپیوټر خونو او کتابتونونو څخه لیدنه وکړه. د لیدنو پرمهال د عملي زده‌کړو بهیر، د موجودو وسایلو د کارونې او ساتنې وضعیت او د کمپیوټرلبونو څخه د حمایوي څارنې بهیر پیل کړی، چې اساسي موخه یې په ښوونځیو کې د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو د کړنو ارزونه، د وسایلو او موادو د سمې کارونې ډاډ ترلاسه کول، د شته ستونزو او اړتیاوو تشخیص او د حمایوي همکاریو او لازمو لارښوونو وړاندې کول دي.

## په ننګرهار ولایت کې رشتوي لېسه پرانیستل شوه

د پوهنې وزارت له لوري په هر ولایت کې یو باب رشتوي لیسې پرانیستلو په لړ کې د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست جلال آباد ښار پوهنې آمریت اړوند استقلال لېسه کې رشتوي لېسه پرانیستل شوه.
په هغه غونډه کې چې له همدې امله د استقلال په لیسه کې جوړه شوې وه د پوهنې ریاست تدریسي مرستیال محترم مولوي لیاقت علی عابد د یادې لېسې له پرانیستل کېدو خوښي څرګنده کړه او وې ویل چې تر دې وروسته به زده کوونکي په خپلو اړونده رشتو کې ډېرې تجربې تر لاسه کړي.
همدا راز په دې غونډه کې د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیر قاري نظیف الله میاخیل، د جلال آباد ښار د پوهنې آمر قاري طیب الرحمن سلامزي او د خصوصي ښوونځیو د اتحادیې رئیس قاري فقیر سید هاشمي هم د یادې لېسې په پرانیسته او د علم او پوهې د ارزښت په اړه تفصیلي خبرې وکړې .
د یادونې وړه ده چې د روان ۱۴۰۵ ښوونیز کال څخه تر ۱۴۰۸ کال پورې په ټول ملک کې په آزمایښتي ډول او په ۱۴۰۹ کال کې به په مرکز کابل کې ټولو ښوونځیو ته او په ۱۴۱۱ کال کې به د افغانستان په ټولو ولسوالیو کې پرانیستل شي . چې د نهم ټولګي فارغ زده کوونکي به په لسم ټولګي کې په دوه رشتو ساینس او اجتماعیاتو کې شاملیږي.

## آغاز کورس سواد آموزی در کمپ حمایوی تداوی معتادین دایکندی

کورس سوادآموزی ویژه معتادین بی‌سواد در کمپ حمایوی ۲۰۰ بستر تداوی معتادین مدیریت مبارزه با مواد مخدر ولایت دایکندی، از سوی بخش سوادآموزی آمریت معارف شهری ریاست معارف این ولایت افتتاح و آغاز شد. مراسم افتتاح این کورس با حضور محترم الحاج مولوی شیرمحمد صدیقی رئیس معارف ولایت دایکندی، محترم قاری عبدالمنان عابد آمر تربیه معلم و تعلیمات عمومی، محترم قاسم اکبری آمر مالی و اداری، محترم قاری نورمحمد عبیده آمر معارف شهری کارمندان معارف شهری و شماری از مسئولان مدیریت مبارزه با مواد مخدر برگزار گردید.
در این مراسم، مسئولان بر اهمیت سوادآموزی در توانمندسازی افراد بی سواد ارتقای آگاهی‌های اجتماعی و فراهم‌سازی زمینه زندگی سالم تأکید کردند. همچنان درباره پیامدهای زیان‌بار مواد مخدر و نقش آموزش و آگاهی در پیشگیری از آسیب‌های ناشی از آن صحبت شد. در جریان این برنامه، برای ۱۳۵ تن از معتادین کتب درسی، قرطاسیه و مواد آموزشی توزیـع گردید.
در پایان، رئیس معارف ولایت دایکندی اشتراک‌کنندگان را به فراگیری سواد استفاده مؤثر از فرصت آموزشی و تعهد جدی به ترک مواد مخدر تشویق نمود.

**نیکمرغي او سعادت د هغو کسانو په برخه دي چې د ماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي.**